پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۱۹

# د افغانستان دائمی بیطرفی

## خـبـرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**نهمه برخه**



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

# ملت جوړونه

دلته غواړم ستاسو پاملرنه ددې رسالې دويم څېرکي ته راوګرځوم چې د دائـمي بې طرفۍ د معيارونو په هکله وو، او په دې کې ستاسو پام عمدتاً لومړني معيار ته راګرځوم چې د افغانستان د دائـمي بې طرفۍ په هکله وو[مخکې ئـې يادونه سوې وګورئ ۵ شميره]؛ لومړی «**موږ د افغانستان خلک**» بايد د يوۀ لاس د پينځو ګوتو په شان راټول او يو موټې سو**!** له دې کبله د هېـواد په ۳۴ ولايتونو کې د هېـواد د ټولو قومونو پرګنې يعنې د ټولو قومي ټولنو، مذهبي ډلو او نورو لړکيو په ګډون ټول بايد له استثناء پرته سره راټول سو. موږ بايد د «نـۀ بېلـېدونکي واحد ملت» د عمومي مفهوم پر شپول، د يوۀ بيرغ، واحد او يو موټي هېـواد او د هېـواد د پـېژندل سويو تأريخي پولو په اډانه کې سره يو او متحد سو او د الله «ج» تر ساتندويه سيوري لاندې په يوۀ غږ خپل هويت د يوۀ نـۀ بېلـېدونکي ملت په توګه اعلان کړو. «**موږ متحد ملت يو، که له يو بله بيل سو نو ستره تأريخي تيروتنه به مو کړې وي!**»

# کوم عناصر يو ملت جوړوي؟

پاول جيمز Paul James په خپل کتاب «ملت جوړونه: د پيچلې ټولنې د تيورۍ پر لور؛ د چاپ کال ۱۹۹۶ز Nation Formation: Towards a Theory of Abstract Community» کې استدلال کوي چې، «ملت او نشنليزم دوه له يو بله بېـل موضوعات دي چې په هکله ئـې لړ نظريات ورکول سوي او په معاصره نړۍ کې تر ډېره ناوړه تعبير سوي دي.[۱]» همدا خبره موږ ته بايد خبر داری راکړي؛ سره له دې چې د سياست د نړۍ پوهان بنايي دداسې يوې تيورۍ د رامنځته کولو په لټه کې وي چې په ساده ژبه ووايي چې ملت څه شی دی، خو زه د يوۀ ساينسپوه په توګه غواړم ووايم چې ساينسي ساده کول «هماغسې چې آينشټاين Einstein ويلي دي،" بايد هر شی د امکان تر حده ساده سي **خو** نـۀ ډېر ساده.[۲]» همدا ټکی له ساينسي ميتود په ځانګړې توګه له نظري فزيک سره ډېر موافق دی خو د آينشټاين د "خو" کلمه موږ ته وايي چې موږ نه بايد هر شي د هغوی له فزيکي امکاناتو پورته ساده کړو. «ګدامر Gadamer» په خپل کتاب «واقعيت او ميتود Truth and Method» کې په بنسټيز ډول استدلال کوي چې ټولنيز علوم يعنی سياسي علوم خپل ځان ساينټفيکي ميتودولوژۍ ته نـۀ تسليموي له دې کبله،

---

۱ - James, Paul. Nation Formation: Towards a Theory of Abstract Community: Sage Publication, Social Science: ۲۵٦ pp. ۱۹۹٦. He discusses the concept of 'Nation' the strength and weaknesses of their theoretical contributions of such men as Marx, Durkheim, Weber, Gellner, and Giddens

۲ - Einstein, Albert. From Nobel Lectures, Physics ۱۹۰۱-۱۹۲۱. Albert Einstein's Biography: Amsterdam Elsevier Publishing Co. ۱۹٦۷. Chapter 'Perennial Universalists: Albert Einstein. One Home, One Family, One Future; Author House. Bloomington, Indiana: pp ۹۳ & ۹۸, ۲۰۱۰.

" بشري علوم... فلسفه، هنر او تأریخ.... ټول له یوې مخې داسې تجربوي میتودونه دي چې په هغوی کې منتقل سوي واقعیتونه داسې واقعیتونه دي چې نـهٔ شي کیدای د ساینس په دقیقو حسابي او د سمو میتودولوژیکي لارو چارو په مرسته په اثبات ورسیږي." [۳]»

له دې کبله اجازه راکړئ چې خپله اخیستنه د "ملت"، "نشنلیزم" او " ملت جوړونه" څه ده له تاسو سره شریکه کړم او **همدا شان ددغو اصطلاحاتو لنډه شرحه به د تعریف په عنوان په دې وراشي کې ومنو.**

**ملت** د انساني ټولنو ټولګه یا مجموعه ده چې له یو بل سره ، الف) د ځمکې پر یوې برخې چې پولې ئې «هم له تأریخي اړخه او یا هم له سیاسي اړخه» ټاکل سوي وي ژوند وکړي، ب) ګډ تأریخ ، ګډ عمومي فرهنګ، پر یو بل باندې متقابله ټولنیزه، سوداګریزه، سیاسي اتکا ولري، ګډ دودونه ولري، پر خپل بیرغ باندې یو سمبول ولري، ګډ ملي اتلان ولري، او د کورني، وړوکې ټولنې، قوم او ولایتي فرهنګ له کچې دباندې او پورته یو هویت ولري. **ملت** د خلکو له یوې ډلې څخه توپیر لري، ډېر پیچلی دی او ډېري وختونه د یوې ځانګړې قومي ډلې په پرتلې په څرګنده او روښانه ډول سیاسي وي.

**نشنلیزم** : یوه ایډیالوژي ده چې دولت- ملت ته د یو چا د ژمنې، پالیالی یا وفادارۍ او اخلاص داسې څرګندویه وي چې د نورو ډلو تر ګټو ئـې لوړه بولي. نازي نشنلیزم د آرین د نژاد پر لوړوالي ډېره لګوله او ورسره د « Deutschland Uber Alles Doctrine» نظریه (یعنی تر ټولو دولت – ملتونو لوړه او برتره) ملګرې وه. په اتلسمې پېړۍ کې د جرمني د کنفدراسیون له منځه د پـروس ظهور د نورو اروپایي ملتونو لپاره په رسمي موډل بدل سو او د ماکیاولي «à la Machiavelli » له مخ په ودې نظریاتو سره په ګټه اخیستنې ئـې خپل سرمشق وګرځاوهٔ.

**ملي دولت:** د یوهٔ یا څوو باندنیو هېـوادونو له لوري د یوهٔ ځانګړي نژاد یا قومي ډلې له منځه د یوهٔ ملت جوړول چې د اجبار یا قهریه قوې یا د اقتصادي دکتورینو، فرهنګي یو شان کولو، سیاسي ایډیالوژۍ او یا د مذهبي تفکر په مرستې له هرې ممکنه لارې او د هر ډول وسایلو په کارولو سره تر سره سي. د یوهٔ باندني بهیر په توګه [ملت جوړول] **{Nation-Building}**

**ملي دولت** : د واکمن جوړښت «حکومت» له لوري، یا د واکمنو او برلاسو مشرانو له خوا څخه په ګټه اخیستنې چې پوځي ځواک ولري له عین قومیت څخه د څو «قومي یا فرقوي» ډلو له منځه جوړ د یوهٔ ملت جوړول دي ملت جوړول د یوهٔ کورني بهیر په توګه. [ملت پالنه] **{Nation-Making}**

**هېـواد:** هغې ارضي کتلې ته ویل کېـږي چې خلک په کې ژوند کوي،« سمندري غاړې، ټاپو، ټاپو وزمه او یا محاط په وچې.» همدا شان پر خپلواک دولت او یا په نورو سیاسي هستیو «قلمرونو» دلالت کوي.

**ملت جوړونه:** د ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي او له بشري حقونو څخه ددفاع په مؤسساتو دلالت کوي، دا مؤسسه د قانون پلي کوونکې ده او نـهٔ یوازې له جګړې وروسته د یوهٔ باندني بهیر **External Process/Nation-Building**

---

۳ - Gadamer, Hans-Georg. TRUTH and METHOD; Continuum Publishing Group: Printed and bound in Great Britain: p. xx. ۱۹۷۵, ۱۹۸۹, this edition ۲۰۰٤.

په توګه د سولې د راوړلو لپاره د اهمیت وړ ده بلکه د پرمختګ د بهیر په هر پړاو او یا د جنګي ټکرونو په بهیر کې دیوه ملت په منځ کې دیوه کورني بهیر په توګه/ ملت پالنه **Internal Process/Nation Building** د اهمیت وړ ده. [٤]

**د ژباړونکي یادونه** : یوازې د احتیاط په پار مې د «ملت جوړونې» او «ملت پالنې» د کلماتو تر منځ د توپیر ساتلو په موخې د «ملت پالنې» کلمه غوره کړله. له خپلو عالمو دوستانو څخه هیله من یم چې که ما ددوی قناعت نـهٔ وي تر لاسه کړی زما دا تیروتنې ته دې د اغماض په سترګه وګوري.

**دولت جوړونه** : د سیاسي علومو یو شمیر تیوریسنان په دې باور دي چې دولت جوړونه د هغـهٔ ګام اوچتولو ته ویل کیږي چې باندني هېـوادونه ئـې د ډېر ضعیف دولت د مؤسساتو د جوړولو یا د بیا رغاونې په موخې او یا له جګړې وروسته د یوهٔ ناکام دولت لپاره اوچتوي. [٥]،[٦]

د یادونې وړ بولم چې «ملت جوړونه Nation-Making» او «ملت پالنه Nation-Building» نباید له یو بل سره مغالطه سې ځکه د یوهٔ ملت د جوړونکو «ملت جوړونه د باندني بهیر په توګه» یو شمیر اهداف د ملت پالونکو «ملت پالنه د یوهٔ کورني بهیر په توګه» له اهدافو څخه الهام اخلي.

د «ملت جوړونې د لارښوونې د مبادیو The Beginner’s Guide to Nation Building » کلاسیک کتاب د اهمیت وړ دی، ددغـهٔ کتاب د اهمیت په پار غواړم ستاسو پام د کتاب هغو یو شمیر برجسته وو ټکیو ته راواړوم چې زموږ په وراشې یا بحث پورې اړه لري. دغه کتاب د یوهٔ ملت د بیا رغاونې لپاره له جګړې وروسته یا د جګړې په روان بهیر کې پالیسی تشریح کوي. ددې کتاب شرحه د هغو عملیاتو پر بنسټ ده چې د امریکا متحده ایالاتو، اروپا، د ملګرو ملتونو سازمان او یا نورو دولتونو او یا سازمانونو په تیرو شپیتو کلونو کې پلي کړي دي. هغه مهم ټکي چې کتاب په خپلې شرحې که رانغاړلي په دغو برخو کې دي، ۱) پوځې، ۲) سیاسي، ۳) د قانون پلي کول، ۴) بشري مرستې، ۵) دولتداري، ۶) اقتصادي ثبات، ۷) ډیموکراتیزه کول او ۸) پرمختیا. کتاب د همداسې عملیاتو پر بیا تکرارکیـدلو باندې په ټینګار یو شمیر بیلګې وړاندې کوي، لکه د ملګرو ملتونو سازمان د سرې جګړې د کلونو په ترڅ کې په هرو څلورو کالو کې یو ځل د سوله ساتنې مأموریت په لاره اچولی دی حال دا چې د امریکا متحده ایالاتو په هرې لسیزې کې یو ځل دغسې یو مأموریت پر غاړه اخیستی دی، خو د سړې جګړې د پای له کلونو وروسته د امریکا متحده ایالاتو په هرو دوه وو کالو کې یو ځل داسې مأموریت تر سره کړی دی! همدا شان کتاب دې ټکي ته نغوته کوي چې د ملت جوړونې عملیات یا «د ځواک د بیا ویش په لړکي د ګډون *اختیار Co-Option* دی یعنی دا چې د **قدرت** او **ثروت** د ترلاسه کولو لپاره په تشدد ولاړو روانو سیالیو ته د سم او سوله ناک بهیر ورکولو په موخه او له شته وو اوسنیو ټولنیزو ځواکونو سره په ګډه د کار کولو اختیار دی (بیلګه : په ۱۹۹۰ز کلونو کې په سانسلوادور کې ملګري ملتونه) او یا هم کالبد ماتول دي یعنی دا چې د اوسنې دولتي جوړښت کالبد ټوټه ټوټه، پانه پانه او پرانیستل دي او ځای ئـې بل نوي جوړښت ته ورکول کیـږي چې په دې لړ کې د ټولنې یو شمیر ځانګړي عناصر له واک او ځواک

[٤] - Dobbins, James, Seth G. Jones, Keith Crane, and Beth Cole DeGrasse. ٢٠٠٧. *The Beginner's Guide to Nation-Building*. Santa Monica, Calif.: RAND Corporation.
[٥] - Darden, Keith; Mylonas, Harris (١ March ٢٠١٢). "The Promethean Dilemma: Third-party State-building in Occupied Territories". *Ethnopolitics*. ١١ (١): ٨٥–٩٣.
[٦] - Ditto. Dobbins, J. et al. The Beginner’s Guide to Nation-Building.

 څخه لوېږي او پر ځای ئې نور کسان واک او ځواک ته رسېږي (بېلګه : په ۱۹۴۰ز کال کې د امریکا له پلوه د جرمني نیواک.) له ۲۰۰۷ تر ۲۰۱۷ز کال پورې د مؤلف ارزونه دا ده چې دا ډول مأموریتونه ځکه **نسلي** مأموریتونه دي چې پیچلتیا ئې د تدریجي پرمختګ له کبله ډېر وخت نیسي. همدا اوس له څه دباندې څلویښتو نورو هېوادونو سره یو ځای که څه هم ځاني تلفات ورسره ملګري دي او په عراق او افغانستان کې ئې پریمانه پانګه بې ځایه تللې خو بیا هم په خوشبینانه احتیاط ورسره قانع دي. [۷]

په دې وروستیو د کولمبیا له پوهنتون څخه اندریاس ویمر Andreas Wimmer یو مقاله لیکلې ده چې سرلیک ئې دی «ملت جوړونه : ولې یو شمیر هېوادونه د استحکام او یو موټیوب پر لور بریالي کېږي او یو شمیر نور لا نړېږي». ددې مقالې لنډیز زموږ وراشې ته اړین ښکاري. "اندریاس ویمر هغه په سوکه خوځښت او بهیر روان ځواکونه څېړلي دي چې له قومي چوکاټه پورته د ملي وحدت په لمن کې سیاسي ائتلافونه هڅوي. د ویمر د **ملت جوړونې** تیوري چې په سوکه خوځښت ځواکونو ولاړه ده وایي چې دا یو **نسلي** بهیر دی: د مدني ټولنې د سازمانونو پراختیا، ژبنیز انډول او یو والی، د ټولنیزو کالیو لپاره ددولت ظرفیت؛ او ورسره ښیي چې د چین او روسیې تر منځ توپیر په دې ټکي دلالت کوي چې څرنګه د یوې ګډې ژبې فضا کولای سي له قومي چوکاټه لوړ د سیاسي ائتلافونو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. ویمر د احصائیوي تحلیل پربنسټ چې د پراخو معلوماتو له ټولګې څخه ئې راټول کړي دي څرګندوي چې دا ډول میکانیزمونه په ټوله نړۍ کې اغیزمن دي او د ډیموکراتیکې حکومتولۍ او یا د ښکیلاک د مواریثو د متضادو استدلالاتو د توضیح په پرتله **ملت جوړونه** په ډېر ښه ډول توضیح کوي. همدا شان ویمر څرګندوي چې سیاسي ائتلافونه د قومي تقسیماتو له منځه تیرېږي او هر هغه مهال چې اکثریت قومي ډلې د حکومت په لوړو مقامونو کې خپل استازی ولري نو عوام الناس خپل هویت د ملت په هیندارې او سمبولونو کې ویني او په دې توګه د ملي سیاسي وفاق جرړې لا نورې ژورې ځغلي.[۸]" " ویمر د ټولنې د ځواکونو د سوکه خوځښت پر اوږد مهالو پړاونو باندې ټینګار کوي خو د هغوی د سازمان، سمبالښت، مشرتابهٔ او پالیسۍ د پایلو په باب حساسه دی. د ویمر په خبرو کې منځنی ټکی دا دی چې ملي هویت د قومي تجانس محصول نهٔ بلکه د عامه کالیو د سرجمعې برابرول په ځان کې رانغاړي. د « ډَنی رودریک، د هاردود له پوهنتون څخه لیکنه Dani Rodrik, Harvard University».

(اي یون AEON) یو راجستر سوی خیریه سازمان دی چې ځان د علم او ګڼ ملیتي نړۍ - لید خپرولو ته ژمن بولي، دا سازمان وایي، " ملت جوړونه د کلمې په دقیقې معنی له دې ټکې خورا لوړه ځي چې یوازې او یوازې د یوهٔ بیرغ، ملي سرود او اردو په لرلو په یوهٔ خپلواک هېواد پورې رالنده سي. یو شمیر لرغوني هېوادونه لکه «بلجیم» لا تر اوسه یو ملت نهٔ دی سوی حال دا چې یو شمیر په معاصر مهال کې جوړ سوي هېوادونه لکه «هندوستان» دغهٔ ځای ته رسیدلي دي. د ملت جوړونې ایکې یا سکه دوه مخونه لري :۱) *د یوهٔ هېواد په ارضي لمنه کې د سیاسي ائتلافونو پراختیا*، او ۲) *دولتي مؤسساتو ته د هویت مسئله او ددولت مؤسساتو ته وفاداري، او له هغو مؤسساتو څخه نور مستقل مؤسسات چې همدا اوس په واک کې ښکیل دي*" د ملت جوړونې لومړنی بنسټیز ټکي په سیاسي اړخ کې **سیاسي اتحاد** دی، دویم اړخ ئې **سیاسي هویت** دی. د دواړو اړخونو د دودولو او حاصلمندولو لپاره د هېواد د

[۷] - Ditto. Dobbins, J. et al. The Beginner's Guide to Nation-Building.

[۸] - Wimmer, Andreas. Nation Building: Why Some Countries Come Together While Others Fall Apart; Princeton University Press, Princeton, USA: ۳۷٦pp. ۲۰۱۸.

اتباعو او دولت ترمنځ سياسي اړيکي بايد د قومي چوکاټ له ويشه وتلي د هېـواد پراخي لمني ته رسيدلي وي. همدا شان ټول پوهان، سياسي نخبه ګان، د ټولني متوسط الحاله کسان لنډه دا چي د هېـواد ټول اتباع بايد د ملت د مجموعي په هينداري کي ځانونه د نژاد او قوميت د اړخونو له پام کي نيولو پرته متساوي الحقوقه اتباع وويني. د امريکا په متحده ايالاتو کي اکثريت پاليسي جوړونکي ملت جوړونه د ټولني له ډيموکراتيزه کولو سره معادل ګڼي. هغوی په حقه په دې باور دي چي د سياسي انسجام او هماهنګۍ لپاره تر ټولو ښـهٔ وسايل ډيموکراسي ده. داسې ښکاري چي ډيموکراسي الزاماً ملت جوړونه نــهٔ کوي بلکه دا ولسونه دي چي ملت جوړونه کوي، هغه ملتونه چي مخکي له مخکي جوړ سوي دي که نن وي يا سبا له همدغـهٔ ځايه به ئـې پيل او د ډيموکراسی لور ته به ګام اوچت کړي. يو ټينګ او ثابت سياسي بنسټ او منل شوې ژبې کولای سي د ملت جوړوني لړی لا ساده کړي. هغوی مني چي که سيمه ييز شرايط ملت جوړوني ته موجب جوړونکي نـهٔ اوسي نو ملت جوړونه له دباندي ناممکناتو ته نيږدې يو شی ده. [۹]

**د نهمه برخه پای**

**نور بيا**

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د افغانستان دائمی بیطرفی (نهمه برخه)
zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_۹.pdf

۹ - Alesino, A, (Harvard) Reich, B, (University College London). Nation Building. https://scholar.harvard.edu ۲۰۱۵